آصف بهاند

۲۰۱۹/۰۳/۲۳

# «دنگ دې وي، لونگ دې وي!»

نه ځم درنه نه ځم، که مې سر لاړ شي

ته دې اوښکې پاکې کړه، بیا وخانده

زه دې دواړو سترګو

او یوې خبرې تم کړمه

هر څه رانه پاتې، ښه یې کم کړمه

داسې یې ځایې کړم لکه غر د پورې کلي مو

پاتې به یم سترګو ته

هغې ستا خبرې ته

لارې د ګودر کې دې چې ووې خپلې سیالې ته:

غواړمه هماغه او اوس بیا وایم

«دنګ دې وي، لونګ دې وي!»

۲۰۱۹/۰۱/۱۸
هېدرسلیف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ